Pashto

# د مراجعه کوونکو لپاره معلومات



د NSW د شکنجې او صدمې
ژغورونکو د درملنې او بیارغونې
لپاره خدمت (STARTTS)

## د STARTTS په اړه

STARTTS یو ځانګړی غیر انتفاعي سازمان دی چې په 1988 کې تأسیس شوی. دا سازمان له کلتوري پلوه اړونده رواني درملنه او مرسته او ټولنیزي مداخلې وړاندې کوي ترڅو خلکو او ټولنو سره مرسته وکړي چې د مهاجرو د شکنجې او صدمې زخمونه روغ کړي او په آسټرالیا کې د دوی ژوند بیا جوړ کړي.
STARTTS همدارنګه د خدماتو، حق غوښتنې او پالیسۍ ته د زده کړې په ورکولو سره د بیا رغونې مثبت چاپیریال رامینځته کوي.

**www.startts.org.au**

## موږ سره اړیکه ونیسئ

**HEAD OFFICE CARRAMAR**
152-168 The Horsley Drive
Carramar NSW 2163
(02) 9646 6700

**OTHER OFFICE LOCATIONS**

Albury
Armidale
Auburn
Blacktown
Coffs Harbour
Fairfield
Liverpool
Newcastle
Wagga Wagga
Wollongong

Go to **www.startts.org.au/contact/** for office location details.

STARTTS also provides counselling and other types of services at outreach locations in Sydney and across NSW such as Bankstown, Parramatta, Dee Why, Lakemba, Penrith, Campbelltown, Rockdale, Tamworth and Griffith. These locations change according to the needs of our clients. Please contact STARTTS for further information.

Images: © STARTTS/David Maurice Smith, Phillip Raymond and Robert Harding



## STARTTS کارمندان څوک دي؟

د STARTTS کارمندان روزل شوي مسلکي کسان دي چې د مختلفو کلتورونو څخه راځي او د هغو خلکو سره د مرستې په برخه کې ماهرین دي چې په تیرو وختونو کې ستونزمن شیان یې تجربه کړي.

## که چیرې یو کس د انګلیسي پرته په بله ژبه خبرې کول غوره کړي؟

د STARTTS کارمندان په ډیرو ژبو خبرې کوي لکه عربي، دري، فارسي، هزاره ګي, پښتو او تامل، او ټول د اړتیا په وخت کې مسلکي ژباړونکي کاروي.

## آیا د شخص معلومات به پټ وساتل شي؟

STARTTS خدمتونه محرم دي. STARTTS به یوازې د هغه چا په اړه معلومات شریک کړي که دوی موږ ته اجازه راکړي او دا د دوی سره مرسته کوي. په هرصورت، که چیرې یو څوک مونږ ته ووایي چې دوی ممکن خپل ځان ته زیان ورسوي یا بل څوک زیانمن شي، نو بیا STARTTS باید د شخص او نورو د ساتنې لپاره ګام پورته کړي.

## STARTTS د چا لپاره دی؟

STARTTS د هغو خلکو سره کار کوي چې اسټرالیا ته د راتګ دمخه د ځورونې، جګړې، تاوتریخوالی او د بشري حقونو سرغړونې تجربه کړې وي، او په پایله کې یې ستونزې لري. STARTTS کولی شي د خلکو سره مرسته وکړي پرته له دې چې دوی اسټرالیا ته کله یا څنګه راغلي.

## ولې یو ځوک د STARTTS مرستې ته اړتیا لري؟

په نوي هیواد کې د تیر وخت له وحشتناکو یادونو سره مخ کیدل کله ناکله زړه راښکونکي وي، او خلک غمجن او مغشوش کړي. دا کولی شي د دوی روغتیا او ورځني ژوند باندی اغیزه وکړي..

ځینې عام غبرګونونه عبارت دي له:

- د انګلیسي زده کړې ستونزې
- په خوب کې ستونزې او بد خوبونه
- د تیر وخت یادونه چې نه تیریږي
- د سر درد او د بدن درد
- په آسانۍ سره غوسه یا ډاربدل
- د نا امیدۍ یا بې وسۍ احساس کول
- دوی نور د خپل ژوند د کنټرول احساس نه کوي
- په کورنۍ کې فشارونه
- په خلکو باور کول یا نوي ملګري پیدا کول ستونزمن وي، د یوازیتوب احساس کول

## آیا STARTTS به مرسته وکړي؟

STARTTS د هغو خلکو سره د مرستې په برخه کې تخصص لري چې په تیرو وختونو کې د ستونزمنو حالتونو سره مخ شوی دي ترڅو بیا روغ شي او ډیر کامیاب ژوند مخ ته یوسي. کله چې خلک لږ فشار او کنټرول کې وي، نو د انګلیسي زده کول، کار موندل، د کورنۍ سره یوځای کیدل، او نوي ملګري پیدا کول آسانه کیږي.



## STARTTS څنګه مرسته کولی شي؟

د STARTTS مشاور کولی شي له شخص سره د دوی د اندیښنو او پریشانیو په اړه خبرې وکړي. دوی کولی شي د هر ډول اندیښنو یا ستونزو په اړه خبرې وکړي چې دوی ورسره مخ دي، دوی د خلکو او سازمانونو سره نښلوي چې کولی شي د ستونزو په حل کولو کې مرسته وکړي، او یو کس سره مرسته وکړي چې پوه شي چې په آسټرالیا کې کارونه څرنګه ترسره کیږي.

## که ځوک غواړي چې په یوه ډله کې وي

STARTTS په مختلفو ژبو کې ډیری ډلې لري، د هغو خلکو لپاره چې د انفرادي مشورې په پرتله ډله ایز ملاتړ غوره کوي. ګروپونه یوازې هغه وخت پیلیږي چې STARTTS ته کافي خلک لیوالتیا ولري. په ګروپونو کې د کلتوري بدلون په حالت کې کورنۍ، ډله ایزې مشورې، د ټولنیزې مرستې ګروپونه، د سپورت ګروپونه، د هنر ګروپونه او د ځوانانو کمپونه شامل دي.

## STARTTS ته راجع کول

STARTTS د هرې سرچینې څخه راجع کول مني، په شمول د ځان راجع کول.

STARTTS ته د راجع کولو لپاره:

**زنګ ووهئ (02) 9646 6800**
(د ترلاسه کولو غوښتنه وکړئ)

**بریښنالیک** STTS-IntakeGeneral@health.nsw.gov.au
(د راجع کولو فورمه د STARTTS ویب پاڼه کې شتون لري)

## یو سړی باید څومره وخت انتظار وکړي؟

STARTTS د انتظار لیست لري، نو سړی به شاید د 2-4 اونیو انتظار ته اړتیا ولري تر څو چې یو مشاور دوی ته د لیدو لپاره بلنه ورکړي.

## آیا یو ځوک کولی شي پرته له ملاقات څخه برخه واخلي؟

یو ځوک کولی شي خپل ځان معرفي کولو لپاره STARTTS ته مراجعه وکړي، مګر په مشورتي ناسته کې د ګډون لپاره دوی باید د ملاقات وخت ولري.

## STARTTS لګښت څومره دی؟

د هغو خلکو لپاره چې موږ ورسره مرسته کوو د STARTTS ټول خدمتونه وړیا دي.

## یو ځوک باید څو کلن وی؟

STARTTS د هر عمر خلکو سره مرسته کوي، د کوچني ماشومانو څخه تر لویانو پورې. که یو ځوک 16 کلن وي یا کم عمر ولري STARTTS د هغه مور او پلار یا سرپرست رضایت ته اړتیا لري.

## یو سړی باید چیرته لاړ شي؟

STARTTS په سیډني او د NSW سیمه ایزو ځایونو کې خلک ګوري:

- STARTTS دفترونه
- STARTTS د لاسرسي ځایونه لکه د ټولنې روغتیایی مرکزونه او TAFE
- ښوونځي (په دې ښوونځي کې د زده کونکو لپاره)